## له ازادو رسنیواوخبریالانو نه دافغانستان جمهوري ریاست

## د ټاکنو د دوهم دورټاکنود کاندیدانود ملاتړ ژمنلیک

زه دافغانستان د۱۳۹۳هجري لمریزکال د دوهم دور ټاکنوکاندید په داسې حال کې چې دبیان ازادي او رسنۍ د تیرې دیارلس کلنې دورې یوه لویه لاسته راوړنه او دخلکو او ولسواکۍ جدي اړتیا ګنم، ژمنه کوم که چیرې په ټاکنو کې بریالی شوم چې په واقعي توګه به دډیموکراسۍ ددغه بنسټیز رکن ملاتړکوم او ورته به ژمن پاتې کیږم.

**لومړۍ ماده:**

په دې باورسره چې دبیان او رسنیو ازادي د یوې ولسواکې او متمدني ټولنې بنسټیزرکن دی ، ژمنه کوم چې سربیره له دې چې دغه اصل ته به درناوی لرم د رسنیو دپرمختګ اوپراختیا او دغه راز دبیان دازادۍ په برخه کې به له هیڅ ډول قانوني اقدام نه ډډه ونه کړم او دبیان او رسنیو د ازادۍ دتامین لپاره به هراړخیزه هڅه کوم.

**دویمه ماده:**

دبیان ازادي دافغانستان دخلکو حق بولم او ژمنه کوم چې دافغانستان دخلکو دغه حق به لکه څنګه چې په قوانینوکې راغلی هغسې تامین کړم.

**دریمه ماده :**

دخبریالانو او رسنیو له حقه حقونو ملاتړکوم او له دې ډلې هغه دوسیې چې په سلیقه یي اودهیواد له قوانینو سره په مخالفت کې دهغوی لپاره جوړې شوي دي په عملي توګه دعدلي تعقیب له دوران نه وباسم. دیادولو ده چې ولسمشرکرزي ددغو دوسیو د رفع کیدو حکم صادرکړی و خو تراوسه دغه حکم لا نه دی عملي شوی.

**څلورمه ماده :**

عدلي اوقضایي اداروته دنده سپارم چې د وژل شویو او ټپي شویو خبریالانو دوسیې به له سره څیړي او ارزوي او پایلې به یې رسنیو او دافغانستان خلکو سره شریکوي. ورسره به زما هڅې له قانوني لاروچارو ددغه شان تاوتریخوالو عاملانوته د سزا ورکونې په برخه کې جدي او هراړخیزه وي. ددغې مسلې دتعقیب لپاره دغه راز د خبریالانو اودخبریالانو دملاتړ ادارو د استازوپه شمول د یوه صلاحیت لرونکي کمیسیون جوړیدوته هم ژمن یم .

**پنځمه ماده:**

ژمنه کوم چې معلوماتو ته د لاسرسي قانون په عملي کولو کې چې د ملي شورا له خوا تصويب شوی دی او ولسمشرته دتوشيح لپاره ليږل شوی جدي گام اوچتوم.

**شپږمه ماده:**

ژمنه کوم چې له خبرياﻻنو سره د چلند څرنگوالی به ديوه مضمون په توگه د امنيتي ادارو په تعليمي نصاب کې شاملوم. ورسره دامنيتي ادارو مسوولين ملزموم هغه امنيتي موظفين چې سرغړونه کوي او دخبرياﻻنوپروړاندې د تاوتريخوالي لامل کيږي دقانوني تعقيب لپاره معرفي کړي.

**اوومه ماده:**

ژمنه کوم چې دخبرياﻻنو او رسنيو دکارکونکو د امنيت ساتنې او ځاني خونديتوب لپاره به ځانگړي اوعملي گامونه پورته کوم او دخبرياﻻنو اود رسنيو دکارکونکو پروړاندې به دهرډول تاوتريخوالي دمخنيوي لپاره خپله ټوله هڅه او هاند کوم.

**اتمه ماده:**

ژمنه کوم چې د اطلاعاتو اوفرهنگ وزارت به د رسنيو اوخبرياﻻنو پروړاندې خپل مسووليت په سمه اوقانوني توگه ترسره کوي اوپه هيواد کې به د رسنيزو فعاليتونو دسمبالونکې ادارې په توگه د يو،يو خبريال اوټولورسنيو يوشان اوپه اغيزمنه توگه ملاتړ اوجدي او قانوني حمايت کوي.

**نهمه ماده:**

ژمنه کوم چې دهيواد په قوانينو او په ځانگړې توگه د جزا قانون کې به ځانگړې مادې ورزياتوم چې له مخې يې هغوکسانو ته سزاپه پام کې نيول شوې وي چې خبرياﻻنو سره دهغوی دخبريالی دکارله امله يا دکار په جريان کې دتاوتريخوالي يا دگواښل عامل گرځي.

**لسمه ماده:**

ژمنه کوم چې دخبرياﻻنو دکاري خونديتوب دتامين لپاره به دکاردقانون په چوکاټ کې يونوی قانون يا له هغه سره مل چمتو او دتصويب لپاره به يې هڅه کوم.

**يوولسمه ماده:**

ژمن کوم چې دخبرياﻻنو دملاتړ دملي صندوق د جوړيدو وړانديز به ملي شوراته د منظورۍ لپاره ليږم. دغه راز حکم کوم چې ددغه صندوق صلاحيتونه به د خصوصي او دولتي رسنيو او دغه راز دخبرياﻻنو دملاتړ يوه گډ او متوازن بورډ ته وسپارل شي او په اجرايي چاروکې به يې د وزارتونو اويانورو حکومتي مراجعو د لاسوهنې مخنيوی کوم. ورسره به زه خپله شخصا دغه صندوق د بډای نې لپاره هڅه کوم.

**دولسمه ماده:**

زه د ۱۳۹۳لمریزکال د جمهوري ریاست مخکښ کاندید دغه ژمنلیک چې په دولسو مادو کې برابر شوی لاسلیکوم او ورته متعهد پاتې کیږم.